مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور
۲۰۲۶/۰۲/۱۰

# ګېډي مړېدو ته نجلۍ واغوستې د نر جامې

ګېډي مړېدو ته نجلۍ واغوستې د نر جامې
دا خو به پر خرهٔ سپرول نه غواړي باداره!؟

دې کړی توهین د برېتورو نارینه د ذات
مخ يې په سکرو تورول نه غواړي باداره!؟

نس پورې د تيږو د ترلو د سنت توهين
دا خو به پر چوک ځړول نه غواړي باداره!؟

هر څوک چې د وېرې نه لایک نه کوي دا مړی دی
مړي خو بيا بيا مړه کول نه غواړي بـاداره!؟

کـلـه کـلـه راشي د بـاور لېوني ذهن تـه
دا ډول پوښتونکي وژل نـه غواړي باداره!؟




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ